مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۲/۱۰

# تــرانـــــــه

ته شمع زه پتنګ یم

وطنه ستا د پاره هر زور ګیر سره په جنګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

پاچا یم که ګدا یم ستا د خاورې خړ ملنګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

ته مور یې ته مې پلار یې
ته میــــنه ته مـې یار یـې
ته کـور ته مـې مـزاریـې

زه جوړیم ستا له کانوپه هرحال کې لوې ګرنګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

بې تا نه یم نیمـګړی
یو خـس یم اوبـو وړی
له ژونده ستړی ستړی

بهر ستا له لمنې په دې لوی جهان کې تنګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

ستا نوم افغانستان دی
جنت نه په ما ګران دی
د هر افغـان ایمـان دی

شپیلې داسرافیل غوندې د مستې نغمې شرنګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

چې بد و ګورې تاته
شې خونه به یې میراته
په تیښـتـه به ځې شـاتـه

تاریخ د برجورو کلاګانو زوې د ننګ یم
ته شمع زه پتنګ یم

جنوری/۲۹/۲۰۱۹
مرکم ـ تورنتو/ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ